ادب له زخمه اخیستل کیږي.

آدم خان دې په خیال ګوروان درغلی دی.

ادې چې زوروره ده، دبابا د زوره ده.

ادې مه یې پوکه، چې سړېږي.

* ارزان بې علته نه وي، ګران بې حکمته.

ارمان به کړې هلکه، بیا به نه مومې ادکه.

ارمان چې ورزوستی عقل لوړی وای.

اره اره، یوم پر غاړه. (۱)

* اړ ستړګې نه لري.

اړد په اړد خلاصیږي.

* ازاري ته په ازارولو ګناه نشته.

ازمویلي څوک نه ازمویي.

ازمایلي بیا مه ازمایه.

ازموینت اول په کال او تلین ؤ، اوس دم په دم دی.

* اسان یې نالول، چونګښو هم پښې پورته کړې.

اسمان لرې، مځکه سخته.

اسمان چې ګړزیږي، هومرد نه اوریږي.

اسمان به ولاړ وي، لاټ به مردار وي.

اسمان چې وریځې ښوروي، باران به وکړي.

(۱) - دا متل دکندهار په سیمه کې ویل کیږي. اره اره دلته د زراعت کروندې په معنې دی.

# (ج)

* جار تر هغه زوی، چې تر هز چا وی نیک خوی.
جار دې شم روپی، چې هم سپر یې هم گډی.
جامه چې د پور شی، په ځان پورې دې اور شی.
اجمې خو دې ښې دی، چې په گیډه ځنگه یې.
* جاهل ته دوه ځله سلام اچوه.
جغ پر غاړه، او جغ غواړه.
* جفا مرگی ښه ده، نه بې اتفاقی؟
* جنگ په وسله، ننگ په غله.
جنگ په شید یاره ښه دی، نه په خاره.
* جنگ پر خاره ښه دی، نه پر شیدیاره.
جنگ جنگی کوی، ننگ ننگی.
جنگ میړه او سپی ژر ښکاره کوی.
جنگ چې نه کوی، د بره لویه اخلی.
جنگ سوړ شو، میری تود شو.
* جوړ صورت چې وی، نیستی نه باندې ورځی.
* جولا شوی نه یې، بیا دې نیچې پتې کړې.

د ماړه کور به سترګې ورډې وي.

د ماهي چې اجل راشي، چجی ته نژدې کیږي.

د مرچو په ښته ناست دی.

د مرد خواره د نامرد په نس کې پاتې کیږي.

د مرګ دارو ګران دی.

د مرګه مخ کښې ځان مه وژنه.

د مرور برخه، یا درنه ده یا تالا ده.

د مرور برخه، د نسور ده.

د مرۍ پسول څه دی، دبنۍ کور څه دی.

د مریانو لښکر څه وي، د خرو چرچر څه دی.

د میرۍ ښپیره، د اور لمبه ده.

د مړاوو اوبو وبیریږه، له توندو اوبو مه بیریږه.

د مړو به لا څه بنادي وي.

د مړو لا کله په قیامت نه وه رضا.

د مړي قدر، په ژوندي باندې وي.

د مړه څخه شیطان لا بیزاره دی.

د مړه مال، په مړه پسې ځي.

د مجبورۍ یو نوم صبر دی.

د مسافر د شپو حساب مه کوه، د سرخواست یې کوه.

د مسافر ویر سوړ وي.

د مستې په میچن، څه ورشې څه غنم.

که تهوله دنیا اوبه ونیسي، د اېلی تر پرکی پورې وی.
که جنگ نه کوې، لکی خو دینگه ونیسه.
که څوک نه شرمیږي، څوک به یې وشرموي.
که څه وابي، څه بهواوري.
که ځان په عذابوې، لهبې عقل سره اشنایي کوه.
کهځان وژنې زردکه خوره، که زردکه وژنې اوبه پسې چیښه.(۱)
که ځغلی له جنجاله، نو تاک مه پرده بې دېواله.
که خاني غواړې، دیر ته لاړ شه. (۲)
که خاورې اخلی، نو له لوی ډېران یې اخله.
که خرڅوری مې زاړه دي، هډوکی مې درانه دي.
کهخرد یې نه وړی، په کوتې یې بار کړه.
که داغوا مړد شي هم به تا وره شي.
که د بیدیا کانې پاسته وای، گبدړانو په وهم نهوای پرې ایښی.
کهدنیا ډېره شی، آخر به تېره شي.
کهد سرکار دکوره تېل درکړه شی، لمن ورته نیسه.
که دې په ښو یاودل، په ښو به یاد شی.
که د فصل خوار یم، د اصل خوار نه یم.
که دېگ د سر وشي، ښخ یې د مسو دی.
کهد سهار ورک ماښام کورته راشی، ورک نهدی.

(۱)- معموادي، چې اوبه د زرد کی نفخ لرې کوي.
(۲)- ـبړ په پښتونستان کښې بو ریاست دي.

واښه دسمې خورې، هوا دغره لرې.

واک ستا دی اکا خپلې، اوس که غوا بیایې که غېلی.

وباسه پېسې، وخوره پتاسې.

وبه دې پوښتم، واکدار به دې نه کړم.

وتلی ښه دی، که ترپلی.

وجنګ ته یو دلوېشت دمخه ګېدل، د سلو کلو لار ده.

وچ اوړه پر دېوال نه نښلي.

وخت چې د برې شی، هر ګیدړ زمری شی.

وخت چې د ختمې شی، د یتیم پز وینې شی.

وخت سره زر دی.

وخوره ګل بخور، چې دې وشی میراث خور.

ورانول اسان دی، خو جوړول ډېر ګران دی.

وروغ یې چې برابره شی، چراغ یې په اوبو کښې بلېږی.

ورغستلی، له منځه وتلی دی.

ورکړه په لاس، ګرزه په پښو.

ورکه کې نیستی، سړی باسی له سیالی.

ورور چې هر څومره بد شی، د میرې له زویه ښه دی.

ورور چې ننګیالی شی، دخور پر سر تېکری شی.

ورور چې سپور شی، دخپل کور شی.

ورور دې وی، پر لاهور دې وی.

ورور دې وی، دمیرې دې وی.

